حاجي محمد نوزادي

۲۰۱۷/۰۱/۱۳

# د ډیسمبر د لسمي نیټې په ویر

د نوی کال یو تت انځور مي ولید ،
ما چي زاړه کال ته ،
په موسکه ژبه ،
بس مخه ښه ویله .

ما مي د زړه په غوږو ،
د زاړه کال له خولي نه ،
دا متل واروېدلو
چي :

« ها بوډا کفن کښ  په دعا مه هیروه » .
ما هرکلي د نوي کال ته چي اورلوبه کول ،
هر یو ښځرکي د سترګک په ژبه ،
د زاړه کال نه پیغورونه راوړل .




( یادوونه : د زاړه او نوي کال نه موخه ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کال دي . اورلوبه ـ اتشبازي )






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ